

د لومړنيو زده کړو د لوست ملي پالیسي معرفي شوه
ص۴

اوونیزه
# معارف
۱۳۹۷ له معارفه د ملاتړ کال
سرمایه گزاری در معارف، سرمایه گزاری بر آیندهٔ کشور است



پوهنې وزارت د برېښنايي شهادتنامو د نوي سیستم پرانېسته وکړه
ص۴

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنيزه خپرونه
سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۳۱ ماه ثور سال ۱۳۹۷

سرمقاله:

## وزارت معارف به تعهداتش جامه عمل می پوشاند

معارف ستون فقرات ترقی و پیشرفت دریک جامعه به حساب میرود، فرایند تعلیم و تربیه از پیدایش انسان بر زمین آغاز شده و هیچ جامعه انسانی وجود نداشته که اهمیت و مرکزیت آموزش را رد کند. در جوامع بدوی، آموزش رسمی به شکل امروزی آن وجود نداشت. در واقع معلمین در تمامی فعالیت‌های روزمره نقش بازی می کردند و همه جا صنف درس بود. انباشتگی دانش در طول زمان باعث شد که یک کس نتواند بر تمامی آن مسلط شود. راه حلی که جامعه برای این مشکل پیدا کرد آموزش به نوع رسمی بود، مدارسی تشکیل شد و متخصصینی در آن‌ها به گونه‌ای موثر به انتقال فرهنگ و دانش موجود کمک می کردند. رفته رفته سیستم آموزش رسمی به عهده مؤسسات و نهاد های خاصی واگذار شد. فرایند آموزش امروزه یکی از پایه‌های اساسی پیشرفت جامعه‌ها شده است و اهمیت روز افزونی پیدا کرده است و این خود باعث این شده که کتاب‌ها و تحقیقات زیادی در زمینه اهداف، محتوا، و نحوه بهینه تدریس انجام شود در افغانستان نیز نهاد های تعلیم و تربیه از قدیم وجود داشته است و در یک دهه اخیر با توجه به کمک های جامعه جهانی و ثبات سیاسی نسبی که به وجود آمده، نهاد های تعلیم و تربیه رشد کرده است. و وزارت معارف هم با توجه به اولویت های خود زمینه های بهتر تعلیم و تربیه اولاد کشور را فراهم ساخته است وزارت معارف به تمام پیشرفت ها و دست آورد های که در عرصه خدمت گذاری به اولاد کشورداشته است اکتفا نکرده به کوشش هایش در عرصه بهبود کیفیت معارف به تلاش های خستگی ناپذیرش ادامه میدهد. وزارت معارف بعد از تدوین و چاپ نصاب جدید به باز نگری آن پرداخت که ریاست عمومی انکشاف نصاب تعلیمی جهت بهبود بخشیدن هر چه بیشتر کتب ونصاب درسی به تعداد ۱۸۴ عنوان کتب درسی صنوف اول الی دوازدهم تعلیمات عمومی را مشترکاً توسط اعضای علمی و مسلکی ریاست نصاب و ...

ص۲

# د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداري رييسه معرفي شوه

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري رييسه آغلې نديمه سحر، چې د ولسمشر محمد اشرف غني د حکم پر بنسټ ټاکل شوې د یو لړ مراسمو په ترځ کې د ولسمشرۍ مانۍ د دويم مرستيال قانونپوه سرور دانش، د پوهنې د سرپرست وزير ډاکټر محمد ميرويس بلخي او يو شمېر نورو چارواکو لخوا د يادې ادارې کارکوونکو ته ور وپېژندل شوه.



دا اداره وړاندې تر دې د پوهنې وزارت په چوکاټ کې د تخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت په نامه فعاله وه.

د پوهنې سرپرست وزير ډاکټر محمد ميرويس بلخي د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداري جوړېدل د دولت د کادر محور او بازار محور لويو سياستونو د تحقق په برخه کې يوه مهمه لاسته راوړنه وبلله او هيله يې وښوده، چې يادو اهدافو ته د رسېدو په لاره کې دا اداره ګټوره تمامه شي.

نوموړي زياته کړه، د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداره...

ص۲

## تخارکې د نجونو د ښوونځي نوې ودانۍ پرانېستل شوه

د تخار ولايت د مرکز تالقان ښار د بي بي فاطمې د نجونو ښوونځي نوې دري پوړيزه



ودانۍ د يو لړ مراسمو په ترځ کې د زده کوونکو پرمخ پرانېستل شوه.

دغه ودانۍ د څه باندې ۲۳ ميليونه افغانيو په ټوليز لګښت د دولت له بوديجې جوړه شوې، چې ۱۶ درسي ټولګي، دوه اداري خونې، ۲۱۳ متره د احاطې دېوال، د کمپيوټر او لابراتوار جلا خونې، د زده کوونکو لپاره مېز، څوکۍ، ۱۰ غرفې تشنابونه او نورې ټولې اړينې آسانتياوې لري.

ددې ودانۍ له پرانېستو سره د ياد ښوونځي سلګونو زده کوونکو ته د زده کړو خوندي تدريسي چاپېريال برابر شوی دی.

د ښوونځي د نوې ودانۍ د پرانېستې په تړاو جوړو شويو مراسمو کې د تخار والي ډاکټر فضل الله مجددي، د پوهنې رياست مسئولينو، د سيمې يو شمېر قومي مشرانو، ښوونکو او زده کوونکو ګډون کړی وو.

## بازگشایی ۲۶۲ باب مکتب مسدود شده در ولایت قندز

به استعانت خداوند عزوجل و تلاش ریاست معارف، علمای کرام، شخصیت های با رسوخ و بزرگان قومی ولایت قندز، ۲۶۲ باب مکتب که از یکماه بدین سو نسبت عدم توزیع معاشات معلمان از طرف معتمدین ،مسدود گردیده بود، دوباره بازگشایی و دروازه های مکاتب متذکره به روی اولاد وطن باز شد.

با باز گشایی مکاتب مذکور زمینه آموزش برای اضافه از ۱۲۳۰۴ تن اعم از شاگردان اناث و ذکور فراهم گردید.

رهبری وزارت معارف از وساطت بزرگان قومی و علمای جید ولایت قندز که در راستای باز گشایی مکاتب تلاش نموده، قدردانی بعمل آورد و خدمت در راه تعلیم و تربیه اولاد وطن که متضمن ترقی سعادت و صلح پایدار در کشور است را درزمرهٔ صدقات جاریه می داند و از عموم هموطنان عزیز می طلبد تا در حمایت...

ص۲



افتتاح تعمیر لیسه غازی امان الله در ولایت بلخ
ص۴



د کندهار ښوونکو ته د موبایل له لارې معاشونه ورکول کېږي
ص۴



د لوګر څلور سوه ښوونکو ته روزنه ورکول کېږي
ص۲

## سیمینار دورهٔ ی برای مسوولان مکاتب ولایت کابل آغاز گردید

سیمینار دوره یی۲۸روزه آگاهی دهی در مورد کم خونی و موثریت تابلیت های فولیک اسید برای مسوولان مکاتب ولایت کابل آغاز گردیداین سیمینار به همکاری مؤسسه یونیسف برای آمرین معارف، مدیران لیسه ها، معلمان وعلمای دینی راه اندازی شده که شاملان سیمینار از دانستنی های ضروری در مورد کم خونی و مفیدیت تابلیت های فولیک اسید، مستفید خواهد گردید.

محترم سرمؤلف سیدعزیزاحمد هاشمی طی دیدار با شاملان سیمینار مذکور از آنها خواست تا برای مردم از مفاد این تابلیت ها معلومات ارایه داشته و علیه هر گونه تبلیغات سوء مبارزه نمایند و شاگردان را نسبت به استعمال این تابلیت ها قناعت بدهند تا با شد نسل جوان برای خدمتگذاری بهتر به وطن آماده شوند.

## سرمقاله:

## وزارت معارف به...

کارشناسان بیرونی اصلاح و مسایل املایی و انشایی آن حل شده است. موجودیت کتب درسی در مکاتب یک رکن اساسی در بهبود کیفیت و آموزش بهتر تعلیم و تربیه بوده و باید کتب درسی در دسترس شاگردان قرار داشته باشد.

با درنظر داشت و توجه به این اصل مهم تا حالا بیشتر از ۲۴۳،۱۱۴،۶ جلد کتب مختلف النوع مربوط دوره های تعلیمی در مکاتب سراسر کشور توزیع و به دسترس شاگردان قرار داده شده است که پروسه توزیع آن تا کنون جریان دارد، وزارت معارف در سدد آنست تا به کمک کشور های تمویل کننده مشکل کمبود کتب را به زودی حل کند.

در سال ۱۳۹۵ وزارت معارف توانست کمک ۷۵ میلیون دالر امریکایی را که از سوی اداره انکشافی جهانی ایالات متحده امریکا به خاطر رفع نیازمندی های کتب به وزارت معارف وعده سپرده شده بود بدست آورد و تا پنج سال آینده در حصه چاپ و توزیع کتب درسی از آن استفاده به عمل خواهد آمد.

نبود وکمبود استادان مسلکی یکی از معضله های دیگر در معارف به شمار میرود که وزارت معارف درین حصه توجه خاص داشته و به منظور رفع این مشکل و بهبود کیفیت تدریس و آموزش دارالمعلمین های اساسی،مراکز حمایوی، و صنوف الحاقیه را در سراسر کشور ایجاد کرده که تعداد مجموعی مراکز تربیه معلم به ۳۳۹ باب که از جمله ۴۸ باب دارالمعلمین اساسی،۱۹۹ باب مراکز حمایوی و متباقی ۹۲ باب الحاقیه میباشد.

هدف کلی دیگر فراهم نمودن تعلیمات تخنیکی و مسلکی مناسب و با کیفیت برای شاگردان ذکور و اناث است تا مهارتهای مسلکی لازم را مطابق به معیار ها و استندرد های بازار های کار کشور و منطقه کسب نمایند و بتوانند در انکشاف و پیشرفت کشور نقش لازم را ایفا نمایند.

برنامه تعلیمات تخنیکی و مسلکی وزارت معارف از سال ۱۳۸۰ تا حال در تمام بخش ها مطابق به اهداف ملی و بین المللی و براساس هدف هزاره سوم و تعلیم برای همه در چوکات وزارت معارف تشکیل و پیشرفت های قابل ملاحظه را داشته است و جهت افزایش شمولیت شاگردان به تعلیمات تخنیکی و مسلکی مخصوصاً دختران برنامه های مختلف را طرح و تطبیق می نماید به صورت مجموعی در سراسر کشور بیشتر از ۳۶۹،۳۶ تن شاگرد جدیداً جذب موسسات تعلیمات تخنیکی ومسلکی شده اند که با جذب شاگردان جدید تعداد شاگردان تعلیمات تخنیکی و مسلکی بیشتر از ۸۴۳،۸۱ تن می رسد که ۱۷ فیصد آنرا اناث تشکیل میدهد در قسمت استخدام استادان تعلیمات تخنیکی و مسلکی به تعداد ۱۳۲ تن معلم که ۱۵ فیصد آنرا اناث تشکیل میدهد که با جذب این تعداد استادان تعداد استادان ما به ۲۷۳۲ تن میرسد که ۲۲ فیصد آنرا اناث تشکیل میدهد.

با آنهم وزارت معارف به تمام توان خود کوشش میکند تا به تعهداتش در راستای بهبود کیفیت نظام آموزشی کشور جامه عمل بپوشاند.

## د لوګر څلور سوه ښوونکو ته روزنه ...

د لومړي مخ پاتې

په لوګر کې ۴۰۰ نارینه او ښځینه ښوونکو ته د ماشومانو د حقونو د پېژندنې په هکله د روزنیزو ورکشاپونو لړۍ پیل شوه .



دښوونکو لپاره یا د روزنیز پروګرام د بیسټ په نوم د پوهنې یوې همکارې موسسې پیل کړ، چې دیارلس بیلا بیلې دورې لري .

په دې روزنیز بهیر کې د ۱۰۰ ښځینه ښوونکو په ګډون ټول ۴۰۰ ښوونکي روزل کیږي، چې د مرکز پل علم، محمدآغې او خوشي ولسوالیو د لېسو او منځنیو ښوونځیو ښوونکي پکې شامل دي .

د دې روزنیزو پروګرامونو ګډونوالو ته د اسلام په مقدس دین کې ماشومانو ته د ورکړل شویو حقونو، د ماشومانو د حقونو د کنوانسیون او د ماشومانو له حقونو د سرغړونو د مخنیوي په برخو کې روزنه ورکول کیږي.

د لوګر د پوهنې رئیس ښاغلي عبدالوکیل کلیوال د یاد روزنیز پروګرام د پیل په مراسمو کې وویل، چې د اسلام مقدس دین ماشومانو ته ډېر حقوق ورکړي او باید پر ځای شي .

هغه له ښوونکو وغوښتل، چې له دې روزنې وروسته د زده کوونکو د والدینو شورا غړو ته د اسلام د مقدس دین د احکامو په رڼا کې معلومات ورکړي.

د یادونې وړده، په تېرو کلونو کې هم د پوهنې وزارت او مرستندویه موسسو له خوا د لوګر سلګونه ښوونکي د ورته ورکشاپونو له لارې روزل شوي دي.

## د تخنیکي او مسلکي...

د لومړي مخ پاتې

به په ټول هېواد کې ځوانانو ته د تخنیکي او مسلکي زده کړو په برخه کې بهتر او ښه خدمات وړاندې کړي او تر ډېره بریده به د کار بازار غوښتنو ته ځواب ووایي.

ښاغلي بلخي وویل:« که څه هم چې سږ کال موږ له دې اداري سره همکار یو، خو هیله لرو، چې په راتلونکو کلونو کې هم دغه همکاري دوام ومومي. موږ تر دولسم ټولګې ځوانانو ته روزنه ورکوو او دا اداره به له مسلکي مهارتونو سره مل متخصصین د افغانستان د کار بازار ته وړاندې کوي.

د ولسمشر دویم مرستیال محترم سرور دانش مېرمن سحر ته د مبارکۍ ترڅنګ په خپلو خبرو کې وویل، چې ددې اداري له جوړېدو سره به د افغانستان د کار بازار ځوان او مسلکي متخصصین ولري.

ښاغلي دانش زیاته کړه، دولت د ټاکنو، لویو اقتصادي پروژو، له فساد سره د مبارزې، د حکومتدارۍ سیستم د اصلاح او دې ته ورته نورو لویو پروژو ترڅنګ د هېواد د پوهنیز نظام ودې او پیاوړتیا ته هم په خپلو لومړیتوبونو کې ځای ورکړی او په اړه یې جدي هلې ځلې کوي .

ښاغلي دانش له پوهنې وزارت څخه د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت د جلا کېدو په اړه وویل، دا معینیت د دوو دلایلو پر بنسټ د پوهنې وزارت له بدنې جلا شوی؛ لومړی دا چې پوهنې وزارت تر ټولو ډېره پاملرنه عمومي زده کړو ته وکړي او دویم داچې تخنیکي او مسلکي زده کړو ته په ځانګړي ډول په داسې یو حالت کې چې د افغانستان په کار بازار کې تر بل هر وخت مسلکي متخصصینو ته شدیده اړتیا لیدل کیږي؛ ډېر اهمیت ورکړل شي .

ښاغلي دانش وویل، هیله من یم، چې ددې اداري ټولې پالیسۍ، لوایح، دندې او مسوولیتونه له پوهنې وزارت سره په پوره همغږۍ او د ټولنې د غوښتنو پر بنسټ ترتیب شي. دغه راز دې اداري ته د کار وړ تشکیلاتي جوړښت جوړ او د ځوانو متخصصینو جذب ته لومړیتوب ورکړل شي .د پوهنې وزارت د تخنیکي او مسلکي زده کړو مرستیال رحیل محمد فرملي په ټول هېواد کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو پر وده او پیاوړتیا ټینګار وکړه او هیله یې وښوده، چې باید په متوازن ډول د هېواد ټولو برخو ته د تخنیکي او مسلکي زده کړو مرکزونو ته پراختیا ورکړل شي.په پای کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري رییسې مېرمن ندیمې سحر د ولسمشر او اجراییه رییس له باور څخه چې د یادې اداري د رییسې په توګه یې وټاکله مننه وکړه او ژمنه یې وکړه، چې د هېواد د نافذه قوانینو په رڼاکې به ددې اداري د اهدافو د تحقق لپاره له هېڅ ډول هلو ځلو دریغ ونه وکړي .

## باز گشایی ۲۶۲ باب ...

بقیه صفحه اول

از معارف به ویژه در سال جاری که به همین نام مسما گردیده در عرضۀ بهبود وضعیت کمی و کیفی معارف جدو جهد مضاعف نمایند.

گفتنی است که با ایجاد شعبات نوی کابل بانک در ولسوالی های ولایت مذکور، منبعد معلمان و پرسونل معارف در دور ترین نقاط ولایت قندز هم می توانند معاشات خویش را به وقت و زمان آن بدست بیا ورند.

وزارت معارف متعهد به ارائه خدمات تعلیمی برای عموم اطفال سن مکتب در تمامی نقاط کشور می باشد که تلاش برای بازگشایی این مکاتب در ولایت قندز، نمونه بارز آن بوده است.

## بادغیس کې ښوونکو ته روزنیز ورکشاپ جوړ شو

د بادغیس ولایت د مقر او آبکمري ولسوالیو ۳۵ تنه ښځینه ښوونکو ته ۷ ورځنی روزنیز ورکشاپ پیل شو. دغه ورکشاپ د ماشومانو د ساتنې په تړاو د ټولنیزو بحثونو تر نامه لاندې د یاد ولایت د پوهنې ریاست دغونډو په تالار کې جوړ شوی دی. دغه ورکشاپ د ورلډویژن موسسې له لوری جوړ شوی، چې په ترڅ کې به یې د یادو ولسوالیو ښوونکو ته د زده کوونکو د حفاظت او ساتنې په اړه د بېلابېلو ټولنیزو مسایلو په هکله روزنه ورکړل شي.

## کندهار کې د معارف دوې مهمې پروژې پرانېستل شوې

د کندهار ولایت د مرکز اړوند په درېیمه ناحیه کې د محمد عظم ایازي د منځني ښوونځي نوې ودانۍ د یو لړ مراسمو په ترڅ کې د زده کوونکو



پرمخ پرانېستل شوه. ددې ترڅنګ د یاد ولایت د مرکز په نهمه ناحیه کې د لیله زده کوونکو لپاره د یوې مجهزې ودانۍ د بنسټ ډبره هم کېښودل شوه .

د کندهار د پوهنې رییس عبدالقادر پیوستون وایي، چې د محمد عظم ایازي منځني ښوونځي ته نوې دوه پوړیزه ودانۍ، چې ۶ درسي ټولګې، دري خونې او نور ټول اړین ملحقات لري د پوهنې وزارت له بودیجې څخه د ۷،۵ میلیون افغانیو په ټولیز لګښت جوړه شوې ده. ددې ودانۍ له پرانېستو سره د یاد ښوونځي سلګونو زده کوونکو ته د زده کړو خوندي تدریسي چاپېریال برابرشوی دی.

د یادې ودانۍ له پرانېستو سره سم د کندهار په نهمه ناحیه کې د لیله زده کوونکو لپاره د یوې مجهزې ودانۍ د بنسټ ډبره هم کېښودل شوه.

د کندهار د پوهنې رییس په وینا، چې یاده ودانۍ د هغو زده کوونکو لپاره جوړېږي، چې له ناامنو سیمو د کندهار ښار ته راځي او دلته خپلې زده کړې پرمخ وړي. نوموړي زیاته کړه، چې وړاندې تردې یاد زده کوونکي په کرایي کورنو کې اوسېدل، چې ددې ودانۍ له جوړېدو سره به ورته د اوسېدلو مناسب او خوندي چاپیریاَل برابر شي.

ښاغلي پیوستون وویل، چې د لیلې دغه ودانۍ به په څلورو پوړنو کې په پاخه او اساسي ډول د راتلونکو دوو کلونو په ترڅ کې جوړه شي. دا ودانۍ به ۲۴ د اوسېدو خونې، جامع جومات او نورې ټولې اسانتیاوې ولري.

ددې ودانۍ پر جوړېدو ۶۲ میلیونه افغانۍ لګښت راځي، چې د پوهنې وزارت له پرمختیایي بودیجې ورکول کیږي .

د یادولو وړ ده، چې په دې اړه جوړو شویو مراسمو کې د کندهار والي زلمي ویسا، د کندهار د پوهنې رییس عبدالقادر پیوستون، د ولایتي شورا وکیلانو، قومي مشرانو، ملي سوداګرو، ښوونکو، زده کوونکو او یو شمېر نورو چارواکو برخه درلوده.

## غزل

خومره په پام څه په تدبير مې فنكاري كړېده
چې هم مې زړه بايللى هم مې دلداري كړېده

ما ددې ښار په ښكلو، ښكلو باندې زړه ويشلئ
چا ددې ښار په ښكلو ، ښكلو پابندي كړېده

ما د طورات له آياتونو نه غزل جوړ كړئ
ما خو د مينې په سندرو زنده ګي كړېده

خدايه ما اوتا په ګډه خومره ښه كارونه كړي
تائې تصوير ويستلې ما ئې شاعري كړېده

خود به سرلوړي د صلات له نرۍ تاره وځم
ما د كفارو سرزمين كې ديندارې كړېده

مرۍ ،مرۍ مې كړه تسبيح مې په تارد تكبير
آرينه ما دې زړه كعبه كې ودانې كړېده

ارسالی:حمید

## خوش آمدی

خوش آمدی به دلم که حریم خانه توست
رفیق روز و شب محرم شبانه توست
تو قبل از آنکه بیایی به خویش میگفتم
بیا بیا که دل خسته در بهانه توست
غم جهان همه گردد زخاطرمن دور
در آن دم که سر من بروی شانه توست
قلم بکف چو بگیرم که مصراع گویم
تمام شعر من اوصاف عاشقانه توست
کسی دیگر ننویسد ز لیلی و شیرین
بخود ببال که این دوره و زمانه توست
ز نازکی و لطافت به برگ گُل مانی
تمام زندگی ام ناز دلبرانه توست
تبسم تو مرا میبرد به عالم دور
دلم خمار لب لعل می فشانه توست
اگرچه مایل رویت چو من بود به هزار
ولی حبیب فقط عاشق یگانه توست

رالیږونکی: زبیر

## کوثر

احساس مې بوګنوي دا ستا يادونه څي راځي
پرهر مې نه جوړيږي چې دردونه څي را څي

ځينې مټكوري ككرۍ دي ياغي شوې
په ذهن كې يې كرلي نفرتونه څي راځي

لاس په كتاب كيږده، ايمان په ګمان مه بايله
انسان چې بدګمان شي عذابونه څي راځي

هسې تخيل كې له جهانه ليرې تښتم
د ستركو رپيدو كې مې خوبونه څي راځي

تبرى وم ( وارث ) راته كنډول د كوثر راوړ
اوس پروت يمه په ځمكه اسمانونه څي راځي

رالیږونکې: رساله

## زريني وېناوې

ښكلا په جامو اغوستلولاس ته نه راځي بلكې ښكلا د علم او ادب له لارې خاصليږي
څلور شيان د مخ او به زياتوي وفا، سخا، حيا او تقوى.
كه چيرې علم مخ درلودلاى نو د څوارلسمې سپوږمۍ څخه به هم ځلانده واى
دوه تږي دي چې هيڅكله به ماړه نه شي يو د علم تږى او بل د دنيا تږى
علم ته ټول ځان وركړه تر څو هغه درته لږ څه دركړي
د حسد ښبنتن به هيڅكله د مقام څښتن نه شي.

رالیږونکی: یاسمین تنې

## نیکی

اگر جای دانه هایت را که روزی کاشته ای فراموش کردی،
باران روزی به تو خواهد گفت کجا کاشته ای...
"پس نیکی را بکار،
بالای هر زمینی...
و زیر هر آسمانی....
برای هر کسی" ...
تو نمیدانی کی و کجا آن را خواهی یافت!!
که کار نیک هر جا که کاشته شود به بار می نشیند...

**ارسالي: عابده ٌفرملی**

## زندگی

زندگی آرام است، مثل آرامش یک خواب بلند. زندگی شیرین است، مثل شیرینی یک روز قشنگ،زندگی رویاییست، مثل رویای یک کودک ناز، زندگی زیبایی است، مثل زیبایی یک غنچه ی باز، زندگی تک تک این ساعتهاست، زندگی چرخش این عقربه هاست، زندگی راز دل مادر من ، زندگی پینه ی دست پدر است، زندگی مثل زمان در گذر است ....

**ارسالي: دنیا**

## قدرت

بهر طرف که ببینم همه نشان خداست
زانس وجنس دوعالم همه از آن خداست
زمین مُعلق ودرگردش است بقدرت او
هزار همچو زمین زیب کهکشان خداست
به موج بحر چو دیدم جهش کنان میگفت
که این خروش ز الطاف بیکران خداست
به روز پرتوه خورشید و شب ستاره وماه
همه ثبوت عیان ازوجود وشان خداست
به مسجد وبه کلیسا و دیر حاجت نیست
خدا مکان نپزیرد نه این مکان خداست
بدشت و خانه وصحرا و کو عبادت کن
که هر کجا که روی جمله آ ستان خداست
بقدرت ار برسی تو بدان غرور مکن
که از تو باز ستانند و امتحان خداست
خدا یک است و بغیر ازخدا نیافت حبیب
به حق پنا چو برد هرکی در امان خداست

**ارسالي: محمد عباس**

## سحر

ياغي درد او د پرهر سره اوسيږم
د شپو غيږ كې د سحر سره اوسيږم
بغاوت مې ددنيا له ژونده كړى
په خلوت كې د كوثر سره اوسيږم
نوك او ورۍ له بله كله جلا كيږي
لكه واورې د سپين غر سره اوسيږم
ما خو هر څه له جانانه سپيلني كړه
اوس ملنګ تنها خپل ور سره اوسيږم
له خپل كلي او رواج وتلى نشم
مات منګي په خير ګودر سره اوسيږم
تا ويل ژوند ټولې سكروټې دي وارثه
شوم تناكې د مجمر سره اوسيږم

**رالیږونکی: احمد ستانكزی**

## ارزن

اارزن برای سلامت بدن انسان بخصوص سلامتی قلب، حفاظت از دیابت، بهبود سیستم گوارش، کاهش خطر ابتلا به سرطان، سم زدایی از بدن، افزایش سلامت تنفسی، بهبود سیستم ایمنی بدن، افزایش سطح انرژی و بهبود عضلات و سلامت عصبی بسیار مفید است. این گیاه با دانه‌ای کوچک، عمدتا در هند تولید و هر ساله بیش از ۸میلیون تن از آن کشت می‌شود. ارزن، می‌تواند مانند یک غلات معمولی استفاده شود و بعلت اینکه نشا یسته‌ی بسیار زیادی دارد (مانند بسیاری از غلات دیگر) می‌تواند در فرنی‌ها، میان وعده‌ها و انواع نان‌ها مورد استفاده قرار بگیرد.

ارسالی: نجیم

## غزل

ژاړم خو سلګۍ مې ترتا نه رسي
هيلې مې دې اوس تر بيګا نه رسي
زما د شوګيرو تپوس له شپې وكړه
څه ګنې سپوږمۍ تر سبا نه رسي
تنده ، شي روژه شي ، ستا يادونه شي
ولې به تر عرشه دعا نه رسي
شي كه دا دنيا ټوله جانان جانان
څه به يې كړم بيا هم تر ما نه رسي
اوس مې په بيتونو كې هبر كړى دى
اوس مې شاعري تر پخوا نه رسي
ته يې چې په غېږه كې نيولى يې
زور زما په هغه بلا نه رسي
لمر څه كوې تور تندر نيولى دى
تاته خو يې هسې رڼا نه رسي

ارسالی:عزیر

## فال نیک

گفتی:غزل بگو ! چه بگویم؟مجاَل کو؟
شیرین من،برای غزل شوروحال کو ؟
پرمی زند دلم به هوای غزل، ولی
گیرم هوای پرزدنم هست،بال کو؟
گیرم به فال نیک بگیرم بهاررا
چشم ودلی برای تماشا وفاَل کو؟
تقویم چارفصل دلم راورق زدم
آن برگ های سبزسرآغاز سال کو؟
رفتیم وپرسش دل ما بی جواب ماند
حاَل سوال وحوصله قیل وقاَل کو ؟

ارسالی: جبار

Weekly Marif Newspaper
Established 2002, Issue No 231, Month - May 2018
Ministry of Education Cultural and Social Issue


## پوهنې وزارت د برېښنايي شهادتنامو د نوي سيستم ...

د لومړي مخ پاتې

د افغانستان د پوهنې وزارت د برېښنايي شهادتنامو د وېش نوی سيستم د يو لړ ځانګړو



مراسمو په ترڅ کې، چې د پوهنې سرپرست وزير ډاکټر محمد ميرويس بلخي، مرکزي رييسانو او يو شمېر نورو چارواکو پکې برخه لرله پرانېسته. د شهادتنامو د برېښنايي کولو موخه د کار چټکتيا، د زده کوونکو اړتياوو ته پر وخت رسېدل، د فساد مخنيوی، د اسنادو خونديتوب، کاري روڼتيا او له معاصرې ټکنالوژۍ سره د پوهنې نظام همغږي کېدل دي. د پوهنې وزارت سرپرست ډاکټر محمد ميرويس بلخي مسوولينو ته ددې مهم ګام د اوچتولو له امله مبارکي ووېله، زياته يې کړه له پوهنې څخه د ملاتړ په روان کال کې د پوهنې د اداري چارو برېښنايي کول زموږ يو له مهمو او اساسي موخو څخه ګڼل کېږي. ښاغلي بلخي زياته کړه، چې ددې سيستم له پلي کېدو سره به په دې برخه کې کاري امور چټکتيا ومومي او په پوره دقت او سرعت به فارغانو ته شهادتنامې ورکول کېږي. دغه راز به نور په دې برخه کې څوك سوء استفاده نشي کولای او د فساد جدي مخنيوی به وشي. د پوهنې سرپرست وزير ټينګار وکړ، چې له پوهنې د ملاتړ په روان کال کې به د پوهنې وزارت ډېری اداري چارې ټکنالوژيکې کړي او تر ډېره بريده به هڅه وکړي، چې په دې وزارت کې بيروکراسۍ ته د پای ټکی کېږدي. نوموړي دغه راز ووېل، چې ددې پروسې له تطبيق سره به زموږ د شهادتنامو سيستم نه يوازې پر نړيوالو معيارونو برابر شي بلکې له دې وروسته به په شهادتنامو کې د هر ډول اشتباهاتو مخنيول شي. دغه راز به د دولسم ټولګي فارغان د زده کړو د پای نړيوال سرټفکيټ ولري او د زده کوونکو ټول اسناد به ډېټابيس او کمپيوټري آرشيف شي. د پوهنې سرپرست وزير ډاکټر محمد ميرويس بلخي ددې يادونه هم وکړه، چې له دې وروسته به د دولسم ټولګي فارغان د ولايتي رييسانو په لاسليك شهادتنامې اخلي او د دومره اوږدې کاري پروسې طی کولو ته به اړتيا نلري.

## افتتاح تعمیر لیسه غازی امان الله در ...

بقیه صفحه اول

تعمیر جدید لیسه غازی امان الله شهری مزار شریف ولایت بلخ توسط محترم احمد صبغت الله مستقیم رییس معارف



آنولایت درحالی که تعدادی از مسوولین ادارات دولتی، استادان وشاگردان حضور داشتند با قطع نوار افتتاح وبه بهره برداری سپرده شد. تعمیر متذکره بصورت پخته و اساسی در دو طبقه به کمک مالی موسسه وسف جرمن کشور المان به مصرف مجموعی ۵۰۰ هزار دالر امریکایی در مدت یکسال اعمار گردیده ، که دارای ۲۴ اتاق درسی ، ۴ اتاق اداری ، دو اتاق لابراتوار، ۱۰ غرفه تشناب، میز وچوکی برای شاگردان ، چاه اب آشامیدنی وسایر ملحقات ضروری میباشد.

قابل یاد آوری است که در لیسه متذکره به تعداد ۲۵۲۵ تن شاگرد ذکور مصروف آموزش هستند، که با اعمار تعمیر متذکره مشکل شاگردان از ناحیه نبود تعمیر مرفوع خواهد گردید.

## د کندهار ښوونکو ته د موبايل له لارې ...

د لومړي مخ پاتې

په کندهار ولايت کې د اداري فساد د مخنيوي او ښوونکو او خاکرېز، ميانيشين، ډنډ او پنجوايي ولسواليو ښوونکو په



کارکوونکو ته پر وخت د معاشونو د ورکولو په موخه د موبايل له لارې د معاشونو ورکړې پروګرام رسماً پيل شو .

دغه پروګرام په راتلونکې يوه مياشت کې د کندهار په ټولو ولسواليو کې پلی کېږي او له دې وروسته به ټول ښوونکي او د پوهنې کارکوونکي د ياد پروګرام له لارې خپل معاشونه پرته له ځنډ ترلاسه کوي.

د پروګرام په لومړي پړاو کې د پوهنې د رييس عبدالقادر پيوستون په ګډون د پوهنې رياست کارکوونکو او د بولدک، دامان، تخته پل، نېش، دې سيستم کې خپل نومونه ثبت کړي دي .

ښاغلي پيوستون ددې پروګرام تطبيق د فساد د مخنيوي په برخه کې يو مثبت ګام وباله، زياته يې کړه، له دې وروسته به ښوونکي او کارکوونکي پر ټاکلي وخت خپل امتيازات ترلاسه کوي او دفساد ټولې لارې چارې به بندې شي.

نوموړي زياته کړه، چې د يوې مياشتې په ترڅ کې به د کندهار ټول ښوونکي او د پوهنې کارکوونکي سيستم ته داخل او ياد بهير به بشپړ کړي.

## د لومړنيو زده کړو د لوست ملي پاليسي ...

د لومړي مخ پاتې

د افغانستان د پوهنې وزارت د امريکا متحده ايالتونو د پرمختيايي اداري په مرسته په لومړنيو زده کړو کې د لوستلو ملي پاليسي معرفي کړه.

د پوهنې وزارت د عمومي زده کړو مرستيال ډاکټر محمد ابراهيم شينواري د يادې پاليسۍ د معرفي پر مهال ووېل، چې پوهنې وزارت د ښوونې او روزنې اهميت ته په کتو، چې د ژوند ټول اړخونه په بر کې نيسي؛ د امريکا متحده ايالتونو د پرمختيايي اداري په مرسته «د افغانستان ماشومان لولي» پروژه پيل کړه .

ښاغلي شينواري زياته کړه، پوهنې وزارت دا پروژه د زده کړو د لومړنۍ دورې (لومړي – درېيم ټولګي) لپاره پيل کړې، چې بنسټيزه موخه يې په ياده دوره کې د زده کوونکو د لوستلو مهارتونو پیاوړتیا ده. هغه د لومړنۍ دورې له ټولو ښوونکو وغوښتل، چې د زده کوونکو د لوست مهارتونو پياوړتيا ته جدي پاملرنه وکړي .



د پوهنې وزارت د پلان او ارزونې رييس عبدالواسع آرين ياده پاليسي د لومړنۍ دورې د زده کوونکو د لوست مهارتونو د ودې او پياوړتيا لپاره خورا مهمه وبلله او له اړوندو مسئولينو يې وغوښتل، چې د پلي کېدو په برخه کې يې جدي هلې ځلې وکړي .

د امريکا متحده ايالتونو د پرمختيايي اداري استازي Douglas Dalton هم د زده کړو په لومړنۍ دوره کې د يادې پاليسۍ د اهميت په اړه خبرې وکړې او ژمنه يې وکړه، چې د پلي کېدو په برخه کې به له پوهنې وزارت سره پوره مرسته او همکاري وکړي

مسوول مدير: محمد نسيم "عياذ"
کتنپلاوي: محمد کبير حقمل – معراج زماني – استاد ګل رحمان رحمان
عبدالصبور غفراني – محمد اکرم وفادار
خبريال: – محمد اشرف رسولي
کمپوز و ډيزاين: بـريالی رحمانزی
شمير: ۵۰۰۰
ديجيتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)
ايميل: marif.newspaper.moe@gmail.com
پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د اړيکو او عامه پوهاوي رياست، د پوهنې اوونيزې مديريت